






مجيب الرحمن « خطيبي »

د نشر نيټه : ۱۶ دسمبر ۲۰۱۳ ميلادی

# ګيله او هيله

هو !
د غليم له ډيرو
هڅو
وروسته
په وينا
او په
لمسون
له ستري
امپراتوری مو
په خپل لاس مو
داسيا په زړه کي
يو وړوکی
هيواد جوړکړ
هو!
ليا هم قرارنه يو
لرغونی او ودان
هيواد مو
د ځناورو
ځنګل جوړ کړ
هو!
پاس مو خوشي
وړي بازان کړل

لاندی مو خوشي
هره خوا وړي
پرانګان کړل
هره خوا مو
جوړ وحشت کړ
هو!
نه په هوا شو
وتی
اونه په ځمکه
پاتی کيدای
بس معلقه يو ولاړ
په سوچونو
او فکرونو
په زړه کی مو
خپل شور جوړ کړ
هو!
که کښته شو
پرانګان مو
خوري
که په هواشو
بازان مو
خوري
ځان ته مو
جوړ دام کړ
هو!
بس له غيرته
اوس په يو بل
چيغی کوکارې کړو
بی خبره له دی
چی
پاس بازان
لاندي
خپل روزل شوي
پرانګان
ابليس مو
ور سره
په خپل ځان
په خندا کړ
هو!
فيزيکي توان
خو موږ کي

نه دي پاتي
له ډېره سوزه
په زړه دا خيرې راشي
يا الله
د غليم سره
دا پرانګان
دا بازان
دا داړه ماران
نيست او
نابود کړې
هو!
داسي وخت به راشي
هره خوا به
شي د امن چيغي
په بازان
اوپرانګان به
وېښ ويده شوي
زمريان
او عقابان شي
ورسره به
سپيني
د سولې کونترې
په هوا شي
هو!
په يو دم به
دهر افغان
په زړه کې
دا جذبه راپيدا شي
چې
خپل هيواد
يوازی په
شعرونو او نثرونو
ونه ستايي
په لوی زړه
د هغه شيدا شي
آمين ...

**مجيب الرحمن « خطيبي »**

**بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org**